يقينا چې حلال څرګند او حرام څرګند دي

له نعمان بن بشير رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه واورېدل چې ويیل يې: - او دلته نعمان رضي الله عنه خپلې دواړه ګوتې غوږونو ته پورته کړې، معنا دا چې په دواړو غوږونو مې ترې اورېدلي دي - : "يقينا چې حلال څرګند او حرام څرګند دي، او ددې دواړو تر منځ هغه چارې دي چې حلال او حرام يې څرګند ندی (شکي چارې دي) چې ډېری خلک پرې نه پوهېږي، نو چا چې لدې شکي چارو څخه ځان وساته په حقيقت کې هغه خپل دين او عزت وساته، او څوک چې پدې شکي چارو کې ښکېل شو هغه په حرامو کې ولوېد، لکه يو چوپان چې د فصل (پټې) خواوشا رمه څروي نو - هره شېبه - شوني ده چې ورګډه شي او پکې وځېږي - خبردار اوسئ چې هر پادشاه د ځان لپاره منع شوي ځايونه لري چې هلته ورننوتل منع وي - نو خبردار اوسئ چې د الله تعالى منعه شوي ځايونه د هغه محارم دي؛ يعنې هغه کارونه چې هغه حرام کړي دي، خبردار اوسئ چې په بدن کې د (غوښې) يو ټوټه ده، که هغه روغه وه ټول بدن روغ دی، او که فاسده وه نو ټول بدن فاسد دی، خبردار اوسئ چې هغه زړه دی".

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د شيانو په اړه عمومي قاعده بيان کړې ده، چې په شريعت کې - شيان - په دريو برخو ويشل شوي دي: ښکاره حلال، ښکاره حرام او مشکوک شيان چې د حلال او يا حرام حکم يې څرګند ندی، او ډېری خلک يې له حکم څخه ناخبره دي. نو چا چې هغه مشکوک شيان پرېښودل، له حرامو څخه په لرې پاتې کېدلو سره يې دين وساتل شو، او ابرو او عزت يې هم د خلکو له خبرو څخه خوندي پاتې شو، ځکه چې له هغه څه نه يې ځان ساتلی چې کول يې خلک عيب ګڼي. او څوک چې له مشکوکو کارونو څخه ډډه ونکړي، نو يا خو به په حرامو کې واقع شي، او يا دا چې عزت به يې د خلکو له خبرو څخه خوندي پاتې نه شي. او رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه چا بېلګه بيان کړه چې شکمن کارونه کوي چې مثال يې د هغه چوپان په څېر دی چې خپله رمه د يو چا د ساتل شوي فصل خواوشا څروي، نو شوني ده چې رمه په نوموړې کرونده ورګډه شي، ځکه چې ورته نږدې ده، نو همدا مثال د هغه چا دی چې شکمن کارونه کوي، ځکه هغه پدې سره حرامو ته نږدې کيږي نو شوني ده چې په حرامو کې واقع شي. ورپسې رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکړ چې (د انسان) په بدن کې د غوښې يو ټوټه ده (چې هغه زړه دی) په روغ پاتې کېدلو سره يې بدن روغ وي او په فاسد کېدلو سره يې فاسديږي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4314